

# په سروې ګانو کې د ښځو د خوندي ګډون د تضمین لارښود

# د افغانستان په بشردوستانه کړنو کې د جنسیت کاري ډله «GiHA WG»

## پیلیزه:

په افغانستان کې اوسنی ناڅرګند سیاسي وضعیت او نښتې ښکاره جنسیتي اغېزې لري. محدودوونکې جنسیتي ناخوالې او اغېزمنوونکې کړنې د زیاتېدو په حال کې دي. ښځې او نجونې له مخکې څخه ډېرې له هر څه د بې برخې کولو او له پرمختګ څخه د شاته پاتې کېدو په حال کې دي. له ښځو سره د سلا او مشوره کولو د بهیر دوام او د هغوی غږ اورېدل له لوړ ارزښت څخه برخمن دي. د هغوی د غږ ملاتړ باید وشي او په بشردوستانه ارزونو او پرېکړو کې باید ګډون ورکړل شي. اوسنیو شرایطو ته په کتو د ښځو او نجونو د ځانګړو اړتیاوو، خطرونو او لومړیتوبونو ارزونه او په دوام داره توګه د هر ولایت لپاره د ځانګړو جنسیتي تحلیلونو ترسره کول ډېر مهم دي. د دغه ټکي یادول هم مهم دي چې ښځې او نجونې په افغانستان کې په پرله پسې ډول تر څار او نظارت لاندې قرار لري او ټولنه هغوی د پولیسو په څېر تر څارنې لاندې لري. تر ټولو مهم او لومړنی ټکی دا دی چې د سروې ستراتېژي باید ددې تضمین وکړي چې هغو ښځو او نجونو ته چې له هغوی سره سلا مشوره ترسره کېږي، هېڅ زیان نه رسېږي.

## مهم ټکي:

**درک، فهم او ژمنې: درک او فهم:** ښځې او نجونې د زیانمنېدونکو قربانیانو، منفعلو مالوماتي سرچینو او یا د مرستو ترلاسه کوونکو په توګه په پام کې مه نیسئ. له ښځو سره په درناوي او د رهبرانو، د بدلون د عواملو، تصمیم نیوونکو او لومړنیو ځواب ویونکو په توګه چلند وکړئ. دا نه یوازې له رواني او روغتیایي اړخه د پېژندنې او هڅونې له مهمو بڼو څخه ده، بلکې ښځې او نجونې هم هڅوي، څو په سروې ګانو کې ګډون وکړي او خپلې همځولې د دغه کار کولو ته وهڅوي.

**ژمنې:** توضیحات ورکړئ چې څنګه د ښځو او نجونو د وضعیت د ښه والي په ګډون، د ځواب ویلو او ملاتړ په پروګرامونو کې له مالوماتو او سروې ګانو څخه ګټه اخیستل کېږي. ددې ژمنه مه کوئ چې دغه سروې به د ښځو او نجونو وضعیت ته بدلون ورکړي. د تمو د مدیریت طریقه په پام کې ونیسئ، څو له خواشیني کېدو او ناهیلي کېدو څخه مخنیوی وکړي.

**خونديتوب ته لومړيتوب ورکول:** د ارزونې په ټولو مرحلو کې تل د مرکه کېدونکو ښځو د خونديتوب په هکله فکر وکړئ. **ګډون او همکاري:** له سيمه ايزې مدني ټولنې او يا د خلکو له هغو ټولنو سره په اړيکه کې شئ، چې له ښځو سره تړاو لري او همکاري وکړئ څو په خوندي ډول هغوی ته لاسرسی ومومئ. د ګټه اخيستونکو او مشوره کېدونکو کسانو اړيکې او شهرت په پام کې ونيسئ. **له تعارض سره حساسيت يا غبرګون ښودل:** د تعارض پر وړاندې حساس اوسئ – هېڅوک بې طرفه نه دي. **پر پوهه ولاړ رضايت:** تل د ښځو د پوهاوي پربنسټ ولاړ رضايت څخه ډاډ ترلاسه کړئ. تينګار وکړئ چې د هېڅ ګډون هم اجباري نه دی او دغه ګډون په بشپړه توګه داوطلبانه او محرمانه دی. **ساتنه:** په سروې کې ګډون کوونکو ته د هغوی د اظهاراتو له محرم والي څخه ډاډ، د مالوماتو حفاظت او ساتنه، د شاهد او افشا کوونکي ساتنه او له ګډون کوونکو څخه د ساتنې لپاره د اړينو کړنو ترسره کول. **د اجازې ترلاسه کول:** مهمه ده څو له اوسنيو ولايتي چارواکو، د ټولنې له مشرانو/غړو او د کورنۍ له غړو څخه له خونديتوب او لاسرسي څخه د ډاډ لپاره اجازه واخلئ.

**افشا کول:** که چېرې افشا کېدنه رامنځته شوه، ځواب ويونکي اوسئ او اړوندې سرچينې ته يې په اړه ووایاست. **ځواب ويل:** شخص ته ډاډ او ارامتيا ورکړئ. ډېره پلټنه مه کوئ. هغوی ته غوږ ونيسئ. باور وکړئ او قضاوت مه کوئ. **ځينې جملې لکه:** «زه پر تا باور کوم»، «ستا ګناه نه ده»، «تاسو د ډاډ او امنيت لرلو لايق ياست»، «تاسو يوازې نه ياست» هغوی ته ووایاست. **ارجاع:** د ارجاع کولو له سيستم څخه په ګټې اخيستو د هغوی د موضوع د ارجاع لپاره د هغوی رضايت ترلاسه کړئ.

**طريقه پېژندنه: د مرکې کولو طريقه:** د مرکې کولو لپاره د تر ټولو غوره طريقې د انتخابولو پر مهال، خونديتوب او مصونيت ته له لومړيتوب ورکولو څخه ډاډ ترلاسه کول، له ځانګړې ارزښت څخه برخمن دي. د دغې موضوع په هکله بايد ګام په ګام تصميم ونيول شي. کولای شو چې د سروې لپاره مرکې په شخصي ډول په يوه ارام ځای، لکه ښځينه فضا کې ترسره کړو. داسې چې د مرکه کېدونکي شخص کور ته په کافي توګه نږدې وي، څو د تګ راتګ محدوديت او امنيتي خطرونه په پام کې ونيول شي. دغه فضا بايد د ټولو ښځو لپاره د لاسرسي وړ وي. له بل لوري، مرکې کېدای شي د مبايل له لارې هم ترسره شي (په عامه توګه له يوي کود اېښودل شوي کرښې څخه په ګټې اخيستو لکه د سېګنال يا تلګرام پروګرام). ددې لپاره چې د ښځو د اواز اورېدل کېدو له خطر څخه مو مخنيوی کړی وي، کولای شئ له لنډو هو/نه پوښتنو کار واخلئ. مرکې همدا راز کولای شي د يوه خوندي سايټ (لکه د سېګنال بېړنی مسنجر) له لارې ترسره شي. له هر ډول طريقې څخه د ګټې اخيستو په تړاو د پرېکړې کولو پر مهال بايد خونديتوب اصلي موخه وي. وروسته په پام کې ونيسئ چې څه ډول کولای شئ مرکه کېدونکو ته لاسرسی پيدا کړی. **د متمرکزې ډلې پر وړاندې انفرادي بحث (*FGD*):** د يو کسيزو مرکو تر منځ د تصميم نيولو پر مهال په ياد ولرئ چې ښځې يوه ځانګړې ټولنيزه ډله ده او په يوه متمرکزه ډله کې د يوې بلې ډلې په توګه له هغوی سره چلند کول ښايي په دې مانا وي چې هغوی د اطلاعاتو افشا کولو ته لېوالتيا نه لري، چې کېدای شي په ټولنه کې د هغوی خونديتوب د ځان سانسور کولو او د هغوی د همځولو د ټولنيز نظارت له لارې له خطر سره مخ شي. د مرکه کېدونکو انتخاب: ډاډه شئ چې انتخاب شوي مېرمن د ټولنې استازې ده او د ښځو په استازيتوب له تاسو سره مرکه کوي. مرکه کېدونکي په بې طرفه ډول وټاکئ.

**د پوښتنليک ترتيبول: عمومي پوښتنې:** پوښتنې بايد په کافي توګه عمومي وي، څو ډاډ ترلاسه شي چې ځواب ويونکي پر پوښتنو پوهېږي او د ځواب ورکولو لپاره ستونزه نه لري. پر ښځو باندې تمرکز کول: داسې پوښتنې وکړئ چې محور يې د ښځو د ژوند د حالاتو په ارزونې متمرکز وي. **فردي کچه:** د جنسيت د تحليل او تجزيې اړوند پوښتنې بايد په فردي کچه راټولې شي، نه د کورنۍ په سطحه. دغه اطلاعات او مالومات د هرې ښځې رول، ګډون او هغه څه چې د ژوند د هوساينې، ځواکمنتيا، خونديتوب، امنيت او منزلت لپاره ورته اړتيا لري، ښيي. **ځانګړې برخه:** د سروې پوښتنې د سيمې د دود او عنعناتو پر بنسټ ترسره کړئ او د هغو پوښتنو له مطرح کولو او له هغې ژبې څخه له ګټې اخيستو ډډه وکړئ، چې له ټولنيز اړخه حساسيت راپاروي او يا ښايي مرکه کېدونکو ښځو ته د خطر رامينځته کېدو او يا هغوی ته د زيان رسېدو لامل شي. **له کليشه يي پوښتنو څخه ډډه کول:** داسې پوښتنې مه کوئ چې ځينې کليشه يي ارزښتونه تر پوښتنې لاندې راولي او يا د قرباني کېدو احساس پياوړی کړي. د فرضياتو له بيانولو او يا د يوه تاکلي لوري په اړه له بحث او پوښتنې څخه ډډه وکړئ. **له حساسيت را پاروونکو پوښتنو څخه ډډه وکړئ:** هغه احساساتي پوښتنې چې په ډېر احتمال سره د روحي ضربې، پر جنسيت ولاړ تاوتريخوالي، ماشوم ځورونې او يا نورو حساسو مسايلو لامل کېږي، مه مطرح کوئ. که چېرې ستاسو کومه پوښتنه د پورته يوه جز د را پارېدو يا رامنځته کېدو لامل کېږي، نو تر «افشا کول» عنوان لاندې لارښوونو ته مراجعه وکړئ. **د تفکيک شوو اطلاعاتو پلټنه:** ډاډ ترلاسه کړئ چې پوښتنې مو د هغو اطلاعاتو لامل کېږي چې کولای شي د سن، جنس او معيوبيت پر بنسټ تفکيک او تشخيص شي.

**د سروې د مطالبو لومړنۍ ارزونه:** له ممکنه ګواښونو څخه د مخنيوي لپاره په آزمايښتي بڼه د سروې مطالب يو ځل وڅېړئ او وارزوئ. مخکې له دې چې پوښتنليک په پراخ ډول خپور کړئ، هغه اصلاح کړئ.

**د اطلاعاتو مدیریت:** د مرکه کېدونکو له ډاډ او خوندیتوب څخه د باوري کېدو لپاره باید ټول اطلاعات ناپېژانده او محرم وساتل شي. شخصي اطلاعات باید هېڅکله راټول نشي.

**د مرکه کوونکي او مرکه کېدونکي انتخاب:** **مرکه کوونکي:** د مرکه کوونکو د ټاکلو پر مهال، ډاډ ترلاسه کړئ چې له ښځو سره باید یوازې د ښځو په وسیله مرکه وشي. **مرکه کېدونکي:** ډاډ ترلاسه کړئ چې مرکه کېدونکي مو مختلف کسان دي. مرکه کېدونکي باید د جنسیت، عمر، نه ځواکمنتیا، قومیت او د تنوع او زیانمننې اړوند نورو مسایلو پر بنسټ مختلف کسان وي. دغه چاره به په راټلونکي کې د ارزونې په وړاندې کولو سره پراخوالی وومومي. د مرکه کېدونکو د ټاکلو پر مهال، په ځانګړې توګه د حساسو موضوعاتو په هکله هڅه وکړئ له همغو ښځو او نجونو سره بیا بیا مرکه مه کوئ. له ټولو اړوند بشردوستانه بنسټونو سره همغږي وکړئ او ناپېژانده اطلاعات له هغوی سره شریک کړئ.

**د مرکه کوونکي چمتو کول:** **د مرکه کوونکي ښوونه او روزنه:** ډاډ ترلاسه کړئ چې ټول هغه کسان چې سروې ترسره کوي، **په لاندې برخو کې ښوونه او روزنه ترلاسه کړې ده:** سن او جنسیتي تنوع، د افشا کېدنې په صورت کې د موضوع د ارجاع کولو وړتیا، حفاظت (د جنیست پر بنسټ تاوتریخوالی او له ماشومانو څخه ملاتړ)، د ارواپوهنې لومړنۍ مرستې، له تعارض سره حساسیت، جنسیتي برابري، د ښځو حقونه او ګڼ نور اخلاقي اصول. **ټولشمولیت:** ډاډ ترلاسه کړئ چې سروې کوونکي له تبعیض څخه د اجتناب کولو له طریقو څخه خبر دي. د محدود تحرک لرونکو ښځو، معیوبو ښځو، پوخ عمر لرونکو یا امېدوارو ښځو او بې سواده ښځو له شاملولو څخه ډاډ ترلاسه کړئ او هغوی ته د مرکې د ځای، وخت او مرکې د طریقې په هکله ډاډ او مالومات ورکړئ.

GENDER
IN HUMANITARIAN ACTION
Afghanistan